مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۷/۰۴

# د لمر غاړه کې اوبه شو

لکه واوره د لمر غاړه کې اوبه شو
موږ لویدلو کې له هر لورې پاخه شو

محبت سپیڅلی څرک له ژوند ورک شوی
تش ژوندون شولو، په زړونو کې واړه شو

د خیالونو هغه لوړ مزي را لنډ شو
احساسات د خوږ زړګي له موږ په تله شو

د جانان او د ارمان خبرې هېرې
بې دردی پر سپیره ډاک باندې ویده شو

د لوړ برم او د دستار سرونه تللي
له باور او نږدیتوب لرې سپیره شو

وچه للمه کې یې وچ تخم راشین کړ
د باران څاڅکی به ژوند شو وریده شو

په ودونو مو تر سهاره وې سندرې
موږ به مینې په نوم سترګو ته رانجه شو

د مشرانو پر جرګو به سره یو وو
د ګاونډ د دسیسو پر لاره پړه شو

د اتکل او انګېرنې حس اسمان کې
کوز پر خپله څمکه هر لور ته ړانده شو

هاجرې لوړو تاترو یوو اوسیدونکې
پورته غرونو پر سرونو به راشنه شو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ